# اسلامي دولت - خراسان ډلې لخوا متوجه تهديدونه

د افغانستان متحده جبهه
استخباراتو کميسيون

د ۲۰۲۴ کال جون مياشتي پنځمه نېټه

# د ګواښ تحلیل

## د معاصر خلافت پیل

د (۱۹۹۶م) کال په ډسمبر میاشت کې د کندهار په ښار کې زرګونه خلک د خرقې مبارکې په جومات کې چېرته چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه وسلم مبارکه خرقه (چپنه) ساتل کېږي، سره راټول شوي وه، ترڅو په هغه غونډه کې ګډون وکړي چې ملا محمد عمر مجاهد پکښې د امیرالمومنین په حیث اعلان شو. ملا محمد عمر د مبارکې چپنې په پورته کولو سره امیرالمومنین اعلان شو. پلویانو یې په لوړ غږ تکبیرونه ویل، ځینو ژړل، او ځینو نورو بیا د دې تاریخي فرصت په مناسبت خوشحالي کوله او لمانځله. په دې سره د مسلمانانو نړیواله رهبري له ۷۰ کلونو وروسته بیا پیل شوه. د مسلمانانو وروستۍ خلافت په (۱۹۲۴م) کال کې په ترکیې کې ړنګ شو، او ترکانو خپل هیواد په یوه جمهوریت بدل کړ.

د دې غونډې اصلي معمار او تنظیموونکې اسامه بن لادن و،چې ورسره څو عرب مېلمانه هم مله وه، په هغو کې ابو مصعب الزرقاوي، الظواهري او همدارنګه ځوان ابراهیم عواد ابراهیم البدري ال سامرایي چې وروسته په ابوبکر البغدادي مشهور شو شامل وه، څو د افغانستان په کندهار ښار کې د نوي مسلمان مشر د تاج پوشۍ په مراسمو کې ګډون وکړي. بغدادي د القاعدې د غړو په ګډون د بېلا بېلو مشرانو په لیدو سره چې له ملا عمر سره یې بیعت وکړ، خورا متاثره شو. خلافت یو ځل بیا په عراق کې د (۲۰۱۴م) کال په جون میاشت کې ظهور وکړ. او بیا وروسته د بن لادن ډیرې ملګرې د البغدادي، زرقاوي، الظواهري او نورو په شمول په ټوله اسلامي نړۍ کې د تروریستي ډلو مشران شول.

په قران کریم کې د خلافت مفهوم ته اشاره شوېده او انسان ته راجع کېږي، چې د ځمکې په سر د خلیفه مقام لري یا په ځمکه باندې د خدای د استازي مقام لري. د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته ابوبکر الصدیق د هغه پر ځای خلیفه وټاکل شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلیفه(ځایناستي) په توګه ونومول شو. وروسته درې نورو نږدې صحابه کرامو هم دغه لقب غوره کړ او د خلفاء الراشدین (واقیعي خلفاء) په نوم یادیدل.

د خلافت درې اصلي ستنې عبارت دي له:

**الف:** شورا (مشوره)

**ب:** د اسلامي ټولنې اجماع

**ج:** بیعت

د خلفاء الراشدینو (واقیعي خلفا) په زمانه کې د دې کار طریقه داسې وه، چې شورا به د دې ارزونه کوله چې څوک باید د خلافت مقام ته ونومول شي، بیا به خلکو په اتفاق رایه ورکوله او کله به چې خلیفه وټاکل شو، نو بیا به خلکو له هغه سره بیعت کاوه. د دې برعکس، وروستي خلیفه ګان چې د مسلمانانو د اجماع اصل یې له پامه

وغورځاوه او دا مقام یې د سلطنتي واکمنی په توګه له یو څخه بل ته انتقال کړ، نامشروع او ناروا وګڼل شول. شیعه مذهبي مشران په دې باور دي چې خلیفه باید د پیغمبر محمد (ص) له نسب څخه وي، مګر ډیری سني مذهبي مشران بیا پراخ فکر لري او په دې اتفاق دي چې خلیفه کېدای شي قریش هم وي، کوم چې د پیغمبر حضرت محمد(ص) قبیله ده.

په کال (۱۵۱۷م) کې چې کله لومړي پاچا سلطان سلیم په قاهره کې د عباسیانو وروستي خلیفه ته ماتې ورکړه نو د خلیفه او امیرالمومنین لقب یې د ځان کړ. دا لقب تر (۱۹۲۴م) کال پورې د ترکي واکمنانو لپاره کارول کېده.

## د منځنۍ اسیا په جنوب کې د اسلامي دولت - خراسان ولایت سرچینه

د کال (۲۰۱۴م) اګست میاشت کې په عراق کې د ابوبکر البغدادي لخوا د خلافت له تاسیس وروسته، د تحریک طالبان پاکستان (TTP) یو مرور مشر، حافظ سید خان او د هغه اصلي حلقې له داعش سره بیعت وکړ او اسلامي دولت - خراسان ولایت یې تاسیس کړ. د اسلامي دولت - خراسان ولایت دغه اعلان د افغانستان په ختیځ ولایت ننګرهار کې وشو. د دی دواړو ډلو ترمنځ اړیکه ایډیالوژیکي ده. اسلامي دولت - خراسان ولایت په ځینو قضیوو کې په خپلواکه توګه فعالیت کوي مګر په ایران او افغانستان کې د دوی ایډیالوژیکي سیال یعني شیعه ټولنو په وړاندې لوی بریدونه هماهنګ کوي. په کال (۲۰۱۶م) کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په برید کې د حافظ سید خان له وژل کېدو او ورپسې د افغان او امریکایي ځانګړو ځواکونو له پوځي عملیاتو وروسته، د اسلامي دولت - خراسان ډلې وړتیاوې او ظرفیتونه په ډراماتیک ډول راکم شول. خو دا ډله هیڅکله په بشپړه توګه له منځه یو نه وړل شوه، او یو ځل بیا د نوي مشرتابه سره راپورته شوه. اسلامي دولت ډله د مرکزي آسیا په جنوب کې د بېلابیلو هیوادونو څخه په استخدام کې بریالي شوې. اوس مهال، د افغانستان متحدي جبهې معلوماتو مطابق په دې ډله کې د ۱۲ مختلفو هیوادونو اتباع فعالیت کوي. که څه هم د دوی تعداد د داعش اصلي ډلې د تعداد په پرتله لږ دی، خو بیا هم دوی وتوانېدل، چې د افغان ځواکونو او خلکو په وړاندې غټ ترهګریز بریدونه ترسره کړي. د (۲۰۱۹م) کال په پای کې، اسلامي دولت خراسان ډله د جګړې په ډګر کې ماته شوی وه، د کوچنیو شبکو په ډله وېشل شوې وه، او د لویو ترهګریزو بریدونو د ترسره کولو توان یې نه درلود.

په کال (۲۰۱۹م) کې، کله چې متحده ایالاتو او طالبانو جدي مذاکرات پیل کړل، د حقاني شبکې مشر او د طالبانو کورنیو چارو اوسني سرپرست وزیر سراج الدین حقاني پریکړه وکړه چې له اسلامي دولت خراسان ډلې سره د متحده ایالاتو او افغان ځواکونو په وړاندې د ترهګرۍ کمپاین ساتلو کې مرسته وکړي. د هغه دا پرېکړه به وروسته په سیمه کې د داعش خراسان ډلې فعالیت، دایمي موجودیت او پراختیا لپاره خورا قیمتي تمامه شي. دې اقدام نه یوازې د دوی مورال لوړ کړ بلکې په اصل کې یې هغوی ته د نوي ژوند فرصت ورکړ. سراج الدین حقاني هغه مهال غوښتل چې د اسلامي دولت - خراسان ډلې تر چتر لاندې پر افغان او امریکایي ځواکونو بریدونو ته دوام ورکړي، څکه چې د افغان طالبانو او امریکایانو تر منځ مذاکرات روان وه، او هدف دا و چې دوی پر امریکایي

ځواکونو خپل بریدونه ودروي او په بدل کې به يې، امريکا پر دوی بریدونه نه کوي، چې دا هر څه بيا وروسته د دوحې د معاملې سره پای ته ورسېدل. په دې اقدام سره نه يوازې دا چې پر افغانانو بریدونه بند نه شول، بلکې طالبان د امريکايانو د بریدونو له ليسته وويستل شول. د نن ورځې اسلامي دولت - خراسان ډلې رهبري په اصل کې پروني طالبان دي، او دا جريان لا همداسې روان دی. لکه څنګه چې د القاعده غړي له اسلامي دولت - خراسان ډلې سره يو ځای کېږي، همداسې مرور طالبان هم له دې ډلې سره په يو ځای کېدو دي. اسلامي دولت خراسان ډله او طالبان د مفکورو له مخې ډير توپير نلري، مګر د دوی هدفونه او د عملياتو طريقې توپير لري. دوی دواړه د شريعت تر ټولو افراطي تفسير سره مخته روان دي څو د تاوتريخوالي له لارې خپلو سياسي اهدافو ته ورسېږي.

## د اسلامي دولت ډله نن ورځ په خراسان ولايت کې

په افغانستان کې د جمهوريت له سقوط وروسته د اسلامي دولت خراسان ډلې شاوخوا ۱۸۰۰ غړي له بېلابېلو زندانونو څخه خوشې شول او بېرته له خپلو ليکو سره يوځای شول چې په هغو کې د خراسان په ولايت کې د اسلامي دولت ډلې مشر اسلم فاروقي هم شامل دی چې په کال (۲۰۲۰م) کې د افغان ځواکونو له خوا نيول شوی و. باور داسې و، چې عبدالله اورکزی چې په اسلم فاروقي هم مشهور دی، د افغانستان په جوزجان ولايت کې له خوشې کېدو شپږ مياشتې وروسته په مرموز ډول ووژل شو، مګر نوموړې د روان کال په اپريل مياشت کې د مسکو له بریدونو وروسته د پاکستان په بلوچستان ايالت کې يو ځل بيا په مرموز ډول راڅرګند شو.

د اسلامي دولت خراسان ډلې نوی مشر ډاکټر ثناءالله غفاري چې په شهاب المهاجر مشهور و، پخوا يې په حقاني شبکه کې فعاليت کاوه، او په کال (۲۰۱۹م) کې د کابل په ترهګريزو بریدونو کې د مرستې لپاره له اسلامي دولت خراسان ډلې سره يوځای شو. دا چې په هغه وخت کې امريکايانو او طالبانو د تاوتريخوالي په کمولو موافقه کړې وه، حقاني شبکې په کابل کې د اسلامي دولت خراسان ډلې د بریدونو حمايت وکړ څو له امريکايانو سره د شوې تړون څخه په سرغړونې او نقض تورن نشي، او شهاب المهاجر يو له هغو کسانو څخه و چې له حقاني شبکې څخه اسلامي دولت خراسان ډلې ته منتقل شو څو د افغان حکومت پر ضد خپل بریدونه لازيات کړي. د يو لړ عملياتو او اقدماتو په ترڅ کې مو د اسلامي دولت خراسان ډلې رهبري ماته کړي وه چې په دې کې  په کندهار کې د اسلم فاروقي نيول، د ملي امنيت له لوري پرلپسې چاپې چې د داعش خراسان ډلې د ۳۰ لوړپوړو غړو په شمول پکښې ۱۰۶ تنه ونيول شول، او همدارنګه د افغانستان په ختيځ کې د امريکا او افغان ځانګړو ځواکونو عمليات شامل وه. د خراسان ډلې پاتې غړي، چې تر ټولو لوی مرکز يې د شهاب المهاجر په مشرۍ په شمالي کابل کې فعاليت کاوه، شهاب المهاجر  يې د خپل مشر په توګه وټاکه. که حقانې ډلې له اسلامي دولت خراسان ډلې سره مرسته نه وای کړې، نو دا ډله به په افغانستان کې له منځه تللې وای.

المهاجر په چټکۍ سره په سوريه کې د داعش نړيوال مشرتابه لخوا ومنل شو، او په خراسان ولايت کې د اسلامي دولت د امير په توګه وټاکل شو، چې دا په اصل کې د سيمې لپاره د اسلامي دولت خراسان ډلې خلافت ګڼل

کېږي. په دې ترتیب، هغه وتوانیده څو په افغانستان او پاکستان کې د پښتو په څېر د حقاني شبکې په کارولو سره په دې تروریستي شبکه کې خپل قدرت زیات کړي. د اسلامي دولت خراسان ډله تر دې دمه توانېدلې چې په افغانستان کې دننه بریدونه وکړي او د امریکایي ځواکونو خروج، د روسیې سفارت او د پاکستان او چین سوداګریز مرکزونه یې هدف ګرځولې دي. دوی په بلخ، بغلان، کندز، کندهار، هرات او کابل کې د شیعه ګانو پر جوماتونو او ښوونځیزو مرکزونو بریدونو ته دوام ورکړی چې په دې کې زرګونه افغانان شهیدان شوي دي. د طالبانو لخوا د افغانانو او ټولنو ځورونې د اسلامي دولت خراسان ډلې لپاره یو مناسب چاپېریال رامنځته کړی چې له امله یې دوی کولای شی بشري ځواک او لاسرسي ته پراختیا او انکشاف ورکړي.

## تشکیلات

د ډاکټر ثناءالله په راتګ سره په خراسان ولایت کې د لومړي ځل لپاره یو افغان د داعش د مشر په توګه وټاکل شو. له هغه وخت راهیسې په دې تروریستي ډله کې ډېر تغییرات راغلي دي او په سیمه کې په پټو او محتاطو شبکو مبدله شویده.

اوس مهال، د اسلامي دولت خراسان ډله د رهبرۍ دوه عمودي ارګانونه لري چې عبارت دي له:

- رهبرۍ شورا، چې د لجنا په نوم یادیږي، او د پاکستان په بلوچستان کې موقعیت لري، او بل یې
- عملیاتي جوړښت دی چې مشري یې د اسلامي دولت خراسان ډلې امیر ثناءالله غفاري کوي چې د افغانستان ختیځ کنړ ولایت کې میشت او په شهاب المهاجر مشهور دی.

له جغرافیایي لحاظ، د اسلامي دولت خراسان ډله څلور فعالې څانګې لري چې عبارت دي له:

- اسلامي دولت خراسان ډله په افغانستان کې
- اسلامي دولت خراسان ډله په پاکستان کې
- اسلامي دولت خراسان ډله په منځنۍ اسیا کې
- اسلامي دولت خراسان ډله په ایران کې

د هغو استخباراتو له مخې چې د افغانستان متحدي جبهې د کال (۲۰۲۴م) تر اپریل میاشت پورې راټول کړي دي، په افغانستان کې د اسلامي دولت خراسان ډلې د ټولو څانګو د حاضرو غړو شمیر نهه زرو ته رسیدلی او په چټکۍ سره د زیاتېدو په حال کې ده. دوی په ښارونو کې د ځانمرګو بریدونو، بغاوت او وژنو لپاره عملیاتي ظرفیت ترلاسه کړي، او په ټوله سیمه کې په دولتي تاسیساتو یا اقتصادي مرکزونو د بریدونو توان لري. دوی په خاصه توګه په ایران کې متمرکز او بریالي دي، او هلته یې په تیرو دوو کلونو کې غټې چاودنې هم ترسره کړې دي.

## اسلامي دولت خراسان ډله په پاکستان کې

په پاکستان کې د اسلامي دولت خراسان څانګه د شهاب المهاجر په مشرۍ د کال (۲۰۲۲م) په پیل کې بیا فعاله شوه. په پاکستان کې د دې شبکې امیر احمد القریشي بلوڅ دی. هغه پخوا په سوریه کې د داعش تر څنګ په جګړو کې برخه اخیستې او په سوریه او عراق کې د داعش له مهمو غړو سره نږدې اړیکې لري. هغه په ایران کې د سني بلوڅو وسله والو سره هم نږدې اړیکي لري او نفر یې په آزاده توګه د پاکستان د بلوچستان او افغانستان او پاکستان سره د ایران سرحدي ښارونو ترمنځ تګ راتګ کوي. د کال (۲۰۲۳م) په وروستیو کې، له سوریې او عراق څخه د داعش مشرتابه ډېرى فعال غړي د پاکستان بلوچستان سیمې او د افغانستان کونړ ولایت ته سفرونه کړي دي. اوس مهال د نړۍ په کچه د داعش تر ټولو لوی او قوي مرکز په خراسان ولایت کې د داعش شبکه ده، چې رهبري یې د پاکستان په بلوچستان، او عملیاتي غړي یې په افغانستان کې میشت دي. د تعجب خبره دا ده چې پاکستاني پوځ د اسلامي دولت خراسان ډله هدف نه ده ګرځولې او همدارنګه د دې ډلې غړو تر اوسه د پاکستان په خاوره کې غټ بریدونه نه دي کړي. په تیرو دوو کلونو کې د هند سمندر او د هوایي دهلیزونو له لارې پاکستان ته او له هغه هیواد څخه د ډلې د لوړ پوړو غړو سفر په ډراماتیک ډول زیات شوی دی. د منځنۍ اسیا له جنوب او سوریې د باندې دوه هغه هېوادونه چې تر ټولو ډېر د داعش غړي پکښې لیدل کیږي ترکیه او پاکستان دي. ترکي چارواکي اوس په خپله خاوره کې د داعش د تعقیب او نښه کولو لپاره ډېره هڅه کوي او کال (۲۰۲۳م) کې دوی په دې هدف کې بریالي شوي هم وه. په هرصورت، تر دې مخکې، ترکې په سوریه کې د بشارالاسد او په عراق او سوریه کې د کردي بیلتون غوښتونکو کمزوري کولو لپاره له داعش مشرتابه سره په احتیاط کار کاوه.

د اسلامي دولت خراسان ډلې د قوت مرکز د پاکستان په بلوچستان ایالت کې د هند سمندر ته څېرمه، ایران او افغانستان سره په ګډه پوله کې موقعیت لري. په سوریه کې میشت د داعش غړي په اسانۍ سره کولای شي د پاکستان خاوره وکاروي څو د راتلونکو بریدونو لپاره د اسلامي دولت خراسان ډلې سره یو ځای شي.

### اسلامي دولت خراسان ډله په منځنۍ اسیا کې

په مرکزي اسیا کې د اسلامي دولت خراسان ډله تر ډېره د ازبک افراطیانو له خوا رهبري کیږي، چې عمدتاً له ازبکستان څخه دي. په سوریه او عراق کې د داعش له ماتې وروسته، د داعش پاتې غړي، په ځانګړې توګه روسي ژبې او د منځنۍ اسیا اتباع چې د داعش په لیکو کې فعال وه، افغانستان او پاکستان ته راستانه شوي دي. د دغو کسانو د شمېر په زیاتېدو سره به د مرکزي آسیا په هیوادونو کې د اسلامي دولت خراسان ډلې عملیاتي ظرفیت هم زیات شي، په ځانګړې توګه په ازبکستان کې چې په چټکۍ سره د شدید افراطیت په لور روان دی. د طالبانو بېرته راتګ څخه په الهام اخیستو، د ازبک افراطي ځوانانو تعداد نه یوازې په اسلامي دولت خراسان ډله کې بلکې د ازبکستان اسلامي غورځنګ کې هم خورا په زیاتېدو دی. سربېره پر دې، د داعش تقریباً ټول ازبکستاني غړي چې په سوریه کې وه، افغانستان ته راستانه شوي او د افغان او ازبکستاني ازبکانو د جلب او جذب لپاره یې هڅې زیاتې

کړي دي. د ټولنېزو رسنیو په کارولو سره، د دوی آنلاین مبلغین له افغانستان څخه د سیند په اوږدو کې یو لوی شمیر نفر جذب کړي دي. د طالبانو شرعت راډیو په مزارشریف کې د ازبکستان ترمز او د تاجکستان پولې سره نږدې په تخار کې فعاله ده. په منځنۍ اسیا کې د طالبانو ملایان چې په ازبکي او فارسي ژبو خبرې کوي ډېر اوریدونکي لري چې تعداد یې که میلیونونه نه وي، خو بیا هم سلګونو زره ته رسېږي.

لکه څرنګه چې داعش له القاعدې څخه راټوکېدلی و، همدارنګه د اسلامي دولت خراسان ډلې ازبک ګروپ د ازبکستان د اسلامي غورځنګ څخه راټوکېده. د کال (۲۰۱۵م) په اوړي کې د افغانستان د غزني ولایت په ناوه ولسوالی کې د ازبکستان اسلامي غورځنګ مرستیال امیر، عثمان غازي د خپل امیر عزیز یولداش، چې د طاهر یولداش زوی او د همدې غورځنګ بنسټ ایښودونکې و او هغه مهال یې د دې ډلې مشري کوله، پر ضد بغاوت وکړ. عثمان غازي او پلویانو یې چې په هغه وخت کې تعداد تر ٦٠ جنګیالیو رسېده، له داعش سره بیعت وکړ او له عزیز یې هم وغوښتل چې بیعت وکړي او هغه د امیر په توګه ومني. عزیز او تقریباً د هغه څلوېښتو نفرو انکار وکړ. عثمان غازي بیا هغوي ټول بندیان کړل او د عزیز د مور، میرمنې او یو کلن زوی په ګډون یې ۴۰ جنګیالي او د عزیز ټوله کورنۍ ووژله. عزیز نېک بخت و چې د افغان طالبانو د یوې ډلې لخوا وژغورل شو چې بیا یې عثمان او د هغه سړي ووژل. د ازبکستان اسلامي غورځنګ مشر عزیز یولداش په کال (۲۰۲۰م) کې د افغانستان په فاریاب کې د افغان ځواکونو له خوا ووژل شو.

دا په اسلامي دولت خراسان ډله کې د ازبک ګروپ پیل و، او له هغه وخت راهیسې، په سلګونو ازبکان له داعش او اسلامي دولت خراسان ډلې سره یوځای شوي او دا جذب لا تراوسه روان دی. پخوا د اسلامي دولت خراسان ډلې په لیکو کې د تاجک غړو استخدام عام نه و، مګر د کال (۲۰۲۲م) په وروستیو کې، په تاجکستان کې د استخدام شبکې فعالې شوې. د دې شبکو له لارې، دوی ډېری افراطي افراد جذب کړل او افغانستان او د پیښور تیراه درې ته یې د روزنې لپاره ولېږل. دا دره په ټوله سیمه کې د اسلامي دولت خراسان ډلې د استخدام او روزنې یو لوی مرکز دی.

د روان کال په مارچ میاشت کې اسلامي دولت خراسان ډلې د روسیې په مسکو کې یو لوی برید ترسره کړ. خو تر دې وړاندې د کال (۲۰۲۲م) ډسمبر میاشتې په پنځمه نېټه داعش په افغانستان کې د روسیې پر سفارت ځانمرګی برید کړی و چې په پایله کې یې د دې سفارت دوه کارکوونکي او اته افغانان ووژل شول. دا کار د روسیې او منځنۍ اسیا پر وړاندې د دې تروریستي ډلې زیاتېدونکي تمرکز په ګوته کوي. اوس مهال، د اسلامي دولت خراسان ډله په ازبکستان، تاجکستان او قزاقستان کې د بریدونو قوي اراده لري. په تیرو دوو کلونو کې، دوی په کافي اندازه تخریبي شبکې رامنځته کړې او د خپلو اهدافو سره سم یې ډېر شمیر افراطي افراد جلب کړي دي. د استخباراتي راپورونو له مخې داعش اوس مهال په ازبکستان او قزاقستان کې د ځانمرګو بریدونو ظرفیت لري او هڅه کوي چې په تاجکستان کې هم دا شان توان پیدا کړي. اوس مهال، اسلامي دولت یا داعش له ٦٠٠٠ څخه زیات د منځنۍ اسیا هیوادونو غړي لري چې په ټوله نړۍ کې خپاره دي، او د اسلامي دولت خراسان ډله بیا له

۱۰۰۰ څخه زیات ازبکستاني او څه باندې ۹۰۰ تاجکستاني جنګیالي لري، چې زیاتره یې په افغانستان کې فعالیت کوي، خو د دوی شبکې تر پاکستان او منځنۍ اسیا پورې غځېږي.

## په ایران کې د داعش عملیاتي ظرفیتونه

د کال (۲۰۲۳م) په جریان کې، د اسلامي دولت خراسان ډلې په ایران کې خپل حضور پیاوړی کړ او په نوموړي هیواد کې یې غټ ترهګریز بریدونه وکړل. د دې ډلې ایرانۍ شبکه د عبدالمتین لخوا رهبري کېږي چې په حمزه المهاجر مشهور دی، د څو کلونو راهیسې د بیرجند او مشهد په سیمو کې اوسېږي. هغه د کربلا زیارت په بهانه څو ځلې د ایران له لارې عراق او سوریې ته سفر کړی او د داعش له مشرتابه سره یې همغږي کړې ده. هغه د افغانستان د کابل ولایت څخه دی او د خراسان ډلې مشر شهاب المهاجر نږدې ملګری دی.

د خراسان په سیمه کې د داعش ډله منځني ختیځ ته تګ لپاره، د ایران خاوره کاروي او دا چې له سوریې څخه د دوی نور واحدونه رارسیدلي دي، نو دوی ته امر شوی چې په ایران کې د ترهګریزو عملیاتو لپاره چمتووالی لازیات کړي. په تیرو دوو کلونو کې، اسلامي دولت په اصفهان، بلوچستان او مشهد ښارونو کې د ایراني بلوڅانو په منځ کې بانفوذه اشخاصو سره اړیکې جوړې کړې دي چې اوس د ایراني اهدافو په وړاندې د بریدونو لپاره له اسلامي دولت خراسان ډلې سره همکاري کوي. دغې ایرانۍ څانګې د پاکستان له بلوچستان او افغانستان څخه په کافي اندازه چاودېدونکي توکي او وسلې ایران ته انتقال کړي دي څو د راتلونکو بریدونو لپاره ذخیره ولري. سربیره پردې، اسلامي دولت خراسان ډلې د جیش العدل په ګډون له سني بلوڅ بیلتون پلوه ډلو سره نږدې اړیکې جوړې کړې. جیش العدل اوس له خراسان ډلې کمک غواړي څو د ایراني حکومت په وړاندې خپلو عملیاتو کې ځانمرګې بریدګر ځای په ځای کړي. د اسلامي دولت خراسان ډلې او جیش العدل ترمنځ همکاري ممکن د ایران په بومي ټولنو کې د خراسان ډلې اړیکې لاقوي کړي.

جیش العدل او انصار الفرقان، چې یوه بله سني وسله واله ډله ده، دواړه د بلوڅو بېلتون غوښتونکو او مظلومو سني ټولنو څخه استخدام کوي چې له څلورو لسیزو راهیسې ځورول کېږي او د ایراني شیعه رژیم څخه د غچ اخیستو په لټه کې دي. هغه بلوڅ قومونه چې له اسلامي دولت خراسان ډلې سره یې د مرستې لپاره تصمیم ونیوه، ایران، پاکستان او د افغانستان په سویل کې ځیني ځایونو ته د دغې ډلې لپاره د یوې وسیلی او دروازې حیثیت لري، ځکه چې دا کسان د درې واړو هیوادونو د هویت اسناد لري او په پاکستان کې د بلوچستان، په افغانستان کې د نیمروز او په ایران کې د بلوچستان صحراګانو کې د قاچاق ټولو لارو سره بلد دي.

د ایران جیش العدل مشر صلاح الدین فاروقي د روان کال د جون میاشتي په دریمه نېټه د ایران او پاکستان پولې ته څیرمه له اسلامي دولت خراسان ډلې سره بیعت وکړ. له دې بیعت سره به د اسلامي دولت خراسان ډله نوره هم پیاوړې او ځواکمنه شي، ایران ته به د دوی لاس خلاص شي او په نوموړي هیواد کې به د دوی بریدونه زیات شي. دا کار کولای شي په سیمه ایزو اړیکو هم اغېزه وکړي. دغې ډلې له دې مخکې هم له داعش سره ایران ته د هغوی

د جنګياليوو په انتقالولو کې مرسته کړې وه. له داعش سره د کوچنيوو ډلو يو ځای کېدو سره به په سيمه کې تاوتريخوالی اوج ته ورسېږي.

## د رهبرۍ عالي شورا (چې په لجنا هم مشهوره ده)

په (۲۰۲۲م) او (۲۰۲۳م) کلونو کې اسلامي دولت له ډېرو خنډونو سره مخ شو او زيات شمېر مشران يې له لاسه ورکړل، له همدې امله يې ډېر مشران له سوريې او عراق څخه افغانستان او پاکستان ته کډه شول او اوس په خراسان ولايت کې د داعش تر ملاتړ لاندې فعاليت کوي. د کال (۲۰۲۳م) په نيمايي کې، دوی مشترکاً د پاکستان په بلوچستان ايالت کې د رهبرۍ نوې شورا جوړه کړه څو د اسلامي دولت خراسان ډله لاقوي کړي او په نړيواله کچه خپل عمليات پراخ کړي. اوس مهال دا شورا د ۱۲ نفرو لخوا رهبري کېږي چې له ٦ هيوادونو څخه دي. دا د اسلامي دولت خراسان ډلې د تصميم نيولو عالي مرجع ده، چې د دې ډلې لپاره د سياسي او مذهبي رهبرۍ کميټې په توګه کار کوي. دوی مهمې تجربې، پوهه، تخصص او همدارنګه د ملاتړ لپاره نړيوالې شبکې له ځانه سره لري. له همدې امله، دا ډله نه يوازې په افغانستان کې بلکې په ټوله نړۍ کې په يو ډېر پېچلې، باظرفيته او دوامداره تهديد باندې بدلېدونکی ده. دا چې اسلامي دولت خراسان ډله د نړۍ په ګوټ ګوټ کې غړي لري، له همدې امله دوی هرڅه ته لاسرسی هم لري. اوس مهال د دې شورا رهبري د شيخ انصار الشامي په غاړه ده، چې اصلاً د سوريې دی او په کال (۲۰۱۴م) کې له داعش سره يو ځای شو، تر دې وړاندې په عراق کې د القاعدې غړی و.

د خلافت د معمول سره سم، چې د اسلامي ټولنې په روانو چارو کې د مشورې لپاره بايد د خلکو يو ګروپ وي، د اسلامي دولت خراسان ډلې امير هڅه وکړه څو داسې خلک راټول کړي او يوه شورا ورڅخه جوړه کړي. دا په دې معنی چې د هغه راتلونکی اقدام ممکن دا وي چې خپل ځان د راتلونکي خليفه په توګه اعلان کړي، ځکه چې د هغه د ځانګې اهميت د منځني ختيځ ځانګو په پرتله ورځ تر بلې په زياتېدو دی. د اوس لپاره، هغه څه چې دی يې نه لري، هغه د خليفه کېدو لپاره د يوې لويې سيمې تر واک لاندې راوستل او د خپل مرکز په توګه ګرځول دي. د اسلامي دولت خراسان ډلې رهبري له وژلو او توقيف کېدو څخه تر ډېره خوندي پاتې شوې ده. د بېلګې په توګه، په تېرو دريو کلونو کې، دوی يوازې يو مهم نفر له لاسه ورکړی، چې د افغانستان په هرات کې يې د شبکې مشري کوله. د دې ډلې د رهبرۍ غړي، په ځانګړې توګه هغوی چې له سوريې څخه راغلي دي، آزمويل شوي مذهبي افراطيان دي چې خپل هدف ته ډېر ژمن دي. دوی د دې تجربه هم لري چې څنګه ځان له وژلو او توقيفېدو څخه وژغوري. خو له بلې خوا دا خبره هم درسته ده چې ايران، افغانستان، پاکستان او د منځنۍ اسيا هيوادونه د دې ډلې د پرمختګ او د ځوانانو( نارينه او ښځينه) د جذب په مخنيوي کې پاتې راغلي، له دې دا ثابتېږي چې د اسلامي دولت خراسان ډلې رهبري بريالۍ شوې او دا چې د لويو اهدافو سره مخ پر وړاندې روان دي، نو ښايي همداسې بريالۍ واوسېږي.

## د منځنۍ اسیا په جنوب کې د اسلامي دولت خراسان ډلې جذب او ګمارنه

په پاکستان، ایران، افغانستان او د منځنۍ اسیا په ځینو هیوادونو کې د استبدادي او ظالمو رژیمونو شتون د ځوانانو لپاره له اسلامي دولت خراسان ډلې سره د یوځای کېدو اصلي لامل دی. د دې تحلیل له مخې، له اسلامي دولت خراسان ډلې سره د ځوانانو د یوځای کېدو درې اصلي لاملونه دي:

الف: **د بې عدالتۍ احساس:** دا اکثراً هغه نارینه دي چې د خپل حکومت د پالیسیو لخوا اغیزمن شوي، یا له فزیکي یا اقتصادي پلوه، په خپلو ټولنو کې مظلوم دي.

ب: **اقتصاد**: په دې تحلیل کې معلومه شوه چې له اسلامي دولت خراسان ډلی سره یوځای شوي ډیری ځوانان د زده کړې، کار کولو او د خپلو کورنیو سره د ژوند کولو لپاره لږ یا هیڅ فرصت نلري، له همدې امله د ژوند څخه ستړي شوي او له وضعیت څخه د ځان خلاصولو لپاره ډراماتیک جرعت کوي څو له دی ډلی سره یو ځای شي. ډیری یې د خپلې بې وزلۍ لامل په حکومتي فساد کې او یا هم په خپلو ټولنو کې د اشرافو لخوا تحمیل شوي نامساوات کې ویني. دا حقیقت په ځانګړې توګه په منځنۍ اسیا، ایران او پاکستان کې صدق کوي، چیرې چې د دغو هیوادونو یو فیصد شتمن خلک د رژیم اشرافیان تشکیلوي.

ج: **ایډیالوژیکي مغز مینځنه:** د پورتني دوه دلایلو پر بنسټ په دغو ټولنو کې خلک د فکري او ایډیالوژیکي مغز مینځنې له خطر سره مخ کېږي. دوی له ډیرو مختلفو لارو د اسلامي دولت خراسان او نورو ډلو سره یوځای کېږي. له کامیابو لارو او پلټ فارمونو یو یې مذهبي ګروپونه یا د کلیو په کچه مدرسې دي، چې دي خلکو ته د هویت، غړیتوب او د هدف احساس ورکوي. دا ډول خلک چې له دې ډلو سره یو ځای کېږي، ډیر سخت دریځه، او ناراضه وي او له همدې امله د دې ډلو اصلي جنګي ځواک تشکیلوي. لازمه نه ده چې دا ډول خلک دي له اوله اسلامي دولت خراسان ډلې سره یو ځای شي، بلکې دوی په اول کې یا طالبان وي یا هم له نورو ډلو سره ارتباط لري چې بیا وروسته له خراسان ډلې سره یو ځای کېږي. وروسته، دوی بیا د خپل تنوع او نړیوال جذب لپاره له اسلامي دولت خراسان ډلې سره یو ځای کېږي. د خراسان ډلې تقریباً ټول اوسنې عملیاتي افغان غړي پخوا له طالبانو یا حقاني شبکې سره وه. د دوی پاکستاني او ایراني نفر یا جنګیالي هم عین کیسه لري. په هرصورت، د دوی نوي ګمارل شوي کسان پخوا یا د طالبانو او یا هم د القاعدي غړي وه، او یا یې هم کومې ډلې پورې ځان نه و تړلی، دا زیانمن خلک دي چې د اهمیت او ارزښت په لټه کې له خپلې ټولنې څخه بهر لاره لټوي. برعکس، د طالبانو ټول غړي د دیني مدرسو څخه راغلي دي چېرې چې دوی په کم عمر کې جذب شوي دي.

### د استخدام ستراتیژي

د یو ځواکمن مسلمان خلافت ژمنه، د غړیتوب احساس، او په اسلامي ټولنه کې د فساد له منځه وړل د تازه استخدام شویو نفرو لپاره مهم او جذاب پیغامونه دي. دوی ته مالي امتیازات، مقامونه، او د نوم ګټلو فرصتونه هم

ورکول کیږي. په اسلامي دولت خراسان ډله کې د مختلفو ملتونو، قومونو او توکمونو تنوع د دوی کلیدي پیغام نور هم پراخوي، قوي کوي او ځوان جنګیالي جذبوي. خراسان ډله د جلب او جذب لپاره د عربي، انګلیسي، اردو، فارسي، پښتو او ترکي ژبو په ګډون ډیری ژبې کاروي. د سیمه ایزو اختلافاتو، نارضایتې او اقتصادي بې عدالتیوو څخه په استفادې، اسلامي دولت خراسان ډله ټولنیزې رسنۍ د خپلو تبلیغاتو د خپرولو لپاره کاروي. اوس مهال، د دې ډلې استخدام د شیخ حذیفه البغدادي لخوا پرمخ وړل کیږي، چې نهه کاله وړاندې له داعش سره یوځای شوی او خراسان سیمې ته د سفر کولو د مخه یې په لیبیا او عراق کې فعالیت کاوه. اوس چې خراسان ډله ډیر توکمونه له ځانه سره لري، دوی دا خلک د دوی په ټولنو کې د لاسرسي لپاره د اصلي استخدام کوونکو او د تبلیغاتي افسرانو په توګه کاروي، په ځانګړې توګه په افغانستان او منځنۍ آسیا کې.

## راتلونکي پلانونه

د اسلامي دولت خراسان ډله د یوه شعار پر بنسټ رامینځته شوې: په خراسان ولایت کې د خلافت رامینځته کول. لکه څنګه چې په یو حدیث شریف کې وړاندوینه شوې چې د مسلمانانو وروستۍ فتحه به له خراسان څخه ظهور کوي چې دا په اصل کې د ننني افغانستان لرغونې نوم دی. خراسان ډله په پلان کې لري چې د طالبانو اداره کمزوری کړې، په ایران کې ګډوډي رامنځته کړې، او په منځنۍ اسیا کې یو مناسب چاپیریال رامنځته کړي څو په دې هیوادونو کې د اورپکو د کنټرول په مټ کوچنۍ سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي او د پرمختګ سره په څنګ کې دا ډلې سره متحدي کړي.

د اورپکو له بریدونو څخه نیولې بیا تر فعاله پروپاګند، استخدام، او د سیمه ایزو حکومتونو غیر اسلامي او فاسد بللو سره، اسلامي دولت خراسان ډله د دوی د بدنامولو او بې اعتباره کولو څو اړخیزه تګلاره لري. دوی د اوسني جنګ له ډګر څخه بهر په لویدیځ کې بریدونو ته دوام ورکوي څو نوي کسان جذب کړي او د تندروه مذهبپالو او مذهبي افراطیانو په منځ کې خپل اعتبار لوړ او قوي کړي. دا مهال دوی په ایران، منځنۍ اسیا او افغانستان متمرکز دي، او په همدې حال کې په امریکا، اروپا او روسیه کې هم خپلو بریدونو ته دوام ورکوي. ممکن دوی په راتلونکو دوو کلونو کې د طالبانو د رژیم لپاره په یو مهم تهدید بدل شي او همدارنګه د ایران او منځنۍ اسیا لپاره خورا مهم امنیتي تهدیدنه پیښ کړي. خراسان ډله د فکري ځواک، بشري ځواک، او په اروپا او امریکا کې د بریدونو ترسره کولو لپاره جذب لري چې دا وړتیا یې په افغانستان او ایران کې هم ثابته کړې ده.

## لازم اقدامات

د اسلامي دولت خراسان ډلې وړتیاوې د مشترکو سیاسي، استخباراتي او نظامي هڅو په نتیجه کې اغیزمنې کیدلی شي. لاندې درې ټکي د اوږدې مودې لپاره د حل لارې وړاندیز کوي:

**۱:** په نړۍ کې له داعش او دې ته ورته ډلو سره د مقابلې تر ټولو اغېزناکو لاره د اسلامي هېوادونو لپاره دا ده چې متحد شي او د هغوی پر وړاندې په اتحاد او همغږۍ سره مبارزه وکړي. د ترهګرو ډلو د بقا یو له مهمو لاملونو څخه هغه دولتونه دي چې دا ډلې د خپلو نیابتي جنګي ډلو په توګه کاروي. د بېلګې په توګه نن ورځ د القاعدې مشرتابه ته په ایران کې او د هغوی جنګیالیو ته په افغانستان کې خوندي پټنځایونه برابر شوي دي چې د دوی د بقا، د قوت احیا او ودې تضمین کوي. په پاکستان کې د اسلامي دولت خراسان ډلې شورا ته په داسې سترګه کتل کېږي لکه د پاکستان لپاره چې کوم تهدید نه پېښوي، دا د دې ډلې مهم مرکز دی او کولای شي په راتلونکي کې د نړۍ لپاره په یوې خطرناکي او وژونکي ډلې باندې مبدله شي. د لویدیځو هیوادونو قضیه هم همداسې ده. دوی اکثرا یوه افراطي ډله د بلې په مقابل کې پیاوړې کوي، او وروسته موږ ټول د دواړو سره په جنګ کې اخته کېږو. دا واقعیت په ځانګړې توګه نن ورځ په افغانستان کې طالبان ډېر ښه تشریح کوي. مسلمان هیوادونه د مشروعیت څخه نیولې تر بشري ځواک، ټیکنالوژۍ او تخصص پورې هر څه لري څو د طالبانو، القاعدې او اسلامي دولت خراسان ډلې په څېر ګروپونه له منځه یوسي. که په ټولو برخو کې نه کېږي، حد اقل د تروریزم سره د مبارزې په څېر مسایلو کې باید په ګډه کار وکړو. د تروریزم له امله موږ له نورو ادیانو سره په مستقیم ټکر او جنګ کې واقع یو. ترهګري هغه مهم لامل دی چې له امله یې بهرني قدرتونه په اسلامي هېوادونو کې لاسوهنه کوي. تروریزم د دریو ابراهیمي ادیانو (اسلام ، عیسویت او یهودیت) تر منځ د نفرت اصلي لامل دی، له همدې امله دا ادیان یو بل سره د مبارزې لپاره غتې او زیات دلایل نه لري، مګر له یو بل سره د مشترک کار او همکارۍ لپاره ډېر دلایل لري.

**۲:** لویدیځ هیوادونه، په ځانګړې توګه امریکا او انګلستان، کولی شي د تروریزم په وړاندې مبارزه کې د سیمه ایزو قدرتونو مرسته وکړي. غوره به دا وي چې لویدیځ قدرتونه پر نورو خپل محلي دودونه او ارزښتونه تحمیل نه کړي. له ترهګرۍ سره په اغېزناکه مبارزه کې لویدیځ هیوادونه باید په سیاستونو کې ځینو ستراتیژیکو مسلو ته پام وکړي لکه د فلسطین مسله چې مسلمانانو ته ډېر ارزښت لري. د غزې په مسله کې د اسلامي او غربي مشرانو لخوا ښکاره منافقت د ترهګرۍ د ودې او تازه جنګیالیوو استخدام، د منابعو د راغونډولو او د نویو مرستندویانو د موندلو لپاره تازه لاملونه وړاندې کړي دي. د اسراییلو چلند او تګلاره چې متحده ایالات یې ملاتړ کوي، هغه لاملونه او انګیزې دي چې تروریزم یې ژوندی ساتلی دی. افراطیت نن ورځ یوازې د مسلمانانو لپاره ننګونه نه ده؛ په امریکا او اروپا کې ډېر افراطي ښي اړخه سیاستوال هم هغه څه کوي چې د طالبانو او القاعدې مشران یې کوي. د هالنډ د لومړي وزیر څرګندونې د دې یوه مهمه بیلګه ده چې ځینې لویدیځ مشران اوس د البغدادي په څېر د نورو مذهبونو پر ضد خبرې کوي. په لویدیځ کې افراطیت به ختیځ کې افراطیت ته وده ورکړي.

**۳:** د تروریستي ډلو لپاره استخدام له محلي ټولنو څخه کېږي، او یوازینۍ غوره لار چې کولای شو د تروریستي ډلو راتلونکې له منځه یوسو دا ده چې د همغې ټولنې له نورو خلکو سره کار وکړو. یو فرانسوی متل دی چې وایي "په نړۍ کې افغان څوک ماتولی شي؟ ځواب یې دا دی چې یو افغان ته به یوازې دوه نور افغانان ماتې ورکوي!" د ترهګرۍ تر ټولو ستر مرکز او د ترهګرۍ راتلونکې جاذبې مرکز افغانستان دی او د دې ختمولو یوازینۍ لار د

افغانانو ملاتړ دی څو د طالبانو پر ځای داسې یو حکومت رامنځته کړو چې مسوول او له نورې نړۍ سره متحد وي. موږ غواړو چې ترهګري ختمه کړو، خو دا کار په یوازې ځان نه شو کولای. موږ د اسلامي هیوادونو او د غربي هیوادونو چې پخوا یې موږ سره همکاري کړې وه، مرستې ته اړتیا لرو. موږ پوځیانو او جنګي الوتکو ته اړتیا نه لرو؛ موږ سیاسي ملاتړ ته ضرورت لرو څو دوی پوه شي چې موږ د آزادۍ لپاره مبارزه کوو. په افغانستان کې، هغه خلک چې د تروریزم مخالف دي مطلق اکثریت دي او د اتحاد لپاره رهبرۍ او ستراتیژۍ ته اړتیا لري. دا هغه څه دي چې موږ د افغانستان متحده جبهه کې پرې متمرکز یو، او موږ متحدینو ته اړتیا لرو څو دا هدف په مؤثره توګه ترلاسه کړو.

## پایله

د ټولو ترهګرو ډلو هدف، طریقې او موخې یو شان دي. دوی یوازې په هویتي نښانو او روشونو کې توپیر لري. اسلامي دولت د خلافت ادعا کوي، چې یوه مذهبي او سیاسي مفکوره ده او ټوله اسلامي نړۍ پکښې شامله ده، په داسې حال کې چې د طالبانو اسلامي امارت سیاسي او نظامي سازمان یا تګلاره ده چې په ځینو جغرافیایي سیمو کې عملي کیږي. په دې کار سره طالبان د القاعده ډلې، چې نړیواله اجنډا لري او نورو ډلو چې سیمه ایزه اجنډا لري، له ملاتړ څخه لاس نه اخلي. په مدرسو کې د طالبانو لخوا د مغز مینځنې مفکورې په اساس چې د نهیلیستي عقایدو (له هر څه څخه انکار) اساس جوړوي، تروریستي ډلو ته د خلکو د جلب او جذب سبب ګرځي. په افغانستان کې د طالبانو بېرته راتګ هغو کوچني تروریستي ډلو ته چې د بریا لپاره مبارزه کوي، قوي جرعت ورکړی دی. د داسې الهام سربېره، په افغانستان باندې د طالبانو کنټرول د تروریزم لپاره وخت، ځای او مادي ملاتړ ته زمینه مساعدوي، دا هغه څه دي چې افغان ځواکونو او د متحده ایالاتو په مشرۍ ایتلافي ځواکونو یې مخه نیولې وه. د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې د مشترک پروګرام نشتوالي ترهګرو ډلو ته بې ساري فرصت ورکړې څو خپل بشري ځواک جوړ کړي، په ازاده توګه زموږ په سیمه کې ګرځي او ډېر ژر به تر امریکا هم ځان ورسوي. مخکې له دې چې ډېره ناوخته شي، راځئ په ګډه کار وکړو او د ناورینونو مخه ونیسو.

## په خراسان ولایت کې د اسلامي دولت د مراتبو د سلسلې ساختار

